هاري　　　　　　　　　　　　واشنگټن ۰۷/۰٤/۲۰۰۹

# جنګ امريکايي سو

په تېرو څو ورځو کي، د افغانستان، امريکا، او بين المللي ټولني په اړه دوې مسلې ډېري روښاني سوې. لمړۍ موضوع دا چي په افغانستان کي ورځ په ورځ او په زياتېدونکي توګه جنګ امريکايي رنګ او شکل اخلي. مانا داچي د افغانستان جنګ هو به هو امريکايي سو. بل دا چي اکثره سياسي مبصرين د ناټو برخليک همدا اوس لا د هندوکش په غرونو کي ليکلی ګڼي. په بل عبارت، افغانستان د ناټو اتحاد د شتون لپاره يو ګران او حياتي ازمويښت بولي.

لمړۍ، په افغانستان کي د جنګ د امريکايي کېدو په برخه بايد ووايم چي پدې کال کي څه د پاسه ۳۰۰۰۰ امريکايي عسکر افغانستان ته روان دي. پدې ترتيب به د امريکايي عسکرو شمېر څه نا څه ۷۰۰۰۰ ته ورسېږي. په افغانستان کي د خارجي قواوو له دريو برخو څخه دوې امريکايان دي. د نورو بهرنيو عسکرو په پرتله، امريکايي عسکر تر بل هر چا په درونو او عصري وسلو مسلح دي. استخبارات او هوايي قوه کاملا امريکايي ده. دکابل حکومت او اکثره محلي او قومي مشران د متحده ايالاتو په زور او پيسو چلېږي. او دمګړۍ افغانستان د ښاغلی اوباما د خارجي پاليسی محوري ټکی دی.

بايد زياته کړم چي دجنګ او سياست تمرکز ښه او ګټور دی. مطلب مي دا دی په يو وخت کي د يوې خارجي قوې سره معامله کول ډېره اسانه او ښه ده نسبت دېته چي ځلوېښت بهرني لالاګان کتار او په نوبت ولاړ وي. په افغانستان کي هيڅ ملي حکومت نه سي کولای چي هم ځلوېښت بهرني ياران خوشحاله وساتي، او هم په عين زمان کي د خپل ولس غوښتنو ته مثبت جواب ووايي. دا نا ممکن کار دی. د ښاغلي سپنتا، دوستم، او نورو کيسي يې ښې بېلګې دي. يو جرمن، ترک، او يا يې بل بهرنی شاته درېږي او په نتيجه کي يې د کابل حکومت خوار، سنف، نا مشروع کېږي. په هېواد کي، د بين المللي ټولني په نظامي او سياسي چارو کي تمرکز به د اکثرو بهرنيو ملکونو د مداخلو چانس ډېر راکم کړي. ښه دا ده چي اروپايي ملکونه بوازي او يا تر ډېره حده ملکي، علمي، تخنيکي، او بشري مرستي وکړي. معلمين، مامورين، او په مختلفو څانګو کي دي افغاني ماهران ورزي. د افغانانو سره دي په تعليم او تربيې کي انساني او مادي کومک وکي. د افغاني محصلينو لپاره دي پخپلو پوهنتونو کي د عالي تحصيلاتو فرصتونه برابر کړي. اروپايان تل د اضافي عسکرو د لېږلو سره جنجال او مخالفت کوي. اروپايان په عمومي توګه له جنګه ځان باسي. نو بنا،بهتره ده چي جنګ بوازي افغانانو او امريکايانو ته پرېښودل سي.

دوهم، شپېته کاله پخوا، ناټو اتحاد د شرقي بلاک او کمونزم د مخنيوی په غرض جوړ سو، خو نن سبا يي پايښت او برخليک په افغانستان کي د القاعدې او افراطي مذهبي ډلو سره په مقابلې کي تړلی بولي. حتی روسيه نن ورځ د خپل پخواني رقيب سره په افغانستان کي مرسته کوي. يقينا، دا يوه حيرانونکې پېښه ده. هله هيڅا دا اټکل نه کاوه چي د ناټو برخليک به يوه ورځ د افغانستان او مذهبي افراطيت سره اړه ولري. خو بين المللي شرايط او حالات تل بدلېږي، او نوي ايتلافونه، بلاکونه، او اهداف تاکل کېږي. دمګړۍ، افغانستان د يويشمتي پېړۍ د هغو جنګونو او چلنچلونو ژوندۍ بېلګه ده چي امريکا، ناټو، او نړيواله ټولنه به دلته او هلته په تېره بيا په درېمه نړۍ کي ورسره کله نا کله مخامخېږي.

د يويشتمي پېړۍ په بهير کي به ځيني ټولني د سياسي ثبات او نسبي سولي د ټينګولو لپاره د نړيوالي ټولني مرستي او مداخلې ته اړتيا ولري. له بده مرغه، افغانستان نن ورځ په همدې کتار کي دی. دا ټولني عموما جنګونو ځپلي وي. اقتصاد يي خراب وي، او اوږدو انارشيو او پر له پسي دتکتاتوريو يي دولت او مدني ټولنه دونه ور کمزورې کړې وي چي پرته له نړيوالي کومک څخه پرخپلو پښو د درېدو توان او طاقت نلري. همدې ملکونو ته نن سبا ناکام دولتونه وايي.

که څه هم اروپا ته د ښاغلي اوباما لمړنی سفر تر ډېره حده بريالی او موفق ښکاري، خو اروپايانو افغانستان ته په هغه اندازه د عسکرو استولو سره موافقه و نه کړه چي اوباما يي تمه لرله. اروپايانو فقط د ۵۰۰۰ نويو عسکرو د استولو ژمنه وکړه. دری زره به موقتي وي، او د انتخاباتو په ترڅ کي به امنيت ساتي. اروپايان د افغانستان جنګ تر ډېره حده د متحده ايالاتو جګړه بولي. مګر اروپا غواړي چي په افغانستان کي د امريکا سره مرسته وکی، ځکه اروپا خپله هم د القاعدې د راغونډېدو او ټېک څخه ډارېږي. بل پلو، اروپا دننه د مسلمانو او نورو مهاجرو ټولنو سره


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

اساسي ستونزي لري. په اروپا کي د یوه مهاجر د ادغام او پرمختګ لپاره زمینه ډېره کمه ده. مهاجر ځوانان قهرجن، بېکاره، او د اروپایي جوامعو له تبعیضي سلوک څخه ستړی او بېزاره دي. هغوی د القاعدې د تبلیغاتو لپاره مساعد ذهنونه لري. اکثرو اروپایانو د افغانستان او پاکستان په وړاندي د ښاغلي اوباما ستراتیژي تاییدکړه. حتی هالنډ ستراتیژي مني، خو بیا هم غواړي چي بل کال خپل عسکر له افغانستان څخه راوباسي. فرانسه او برتانیه هم د نورو اضافه محاربوي عسکرو استولو ته زړه نه ښه کوي.

په اروپا کي، د ښاغلي اوباما د سفر په ترڅ کي یو ځل بیا افغانستان د بین المللي ټولني د مسایلو او پرابلومونو په سر کي راغلی. د هېګ کانفرانس، د جي شل غونډه، او اروپا ته د ښاغلي اوباما د سفر په ټول بهیر کي د افغانستان موضوع ګرمه وه. فقط څو ورځي پخوا، ښاغلي اوباما د افغانستان او پاکستان په اړه خپله ستراتیژي بیان کړه. داسي ښکاري چي امریکایانو له خپلو پخوانیو اشتباهاتو څخه څه زده کړي دي. اوس، امریکایان زیاتره د ډپلوماسی، بیاودانولو، د محلي خلکو سره د ښو او نږدیو اړیکو د ټینګولو، او حتی د اعتدالي طالبانو سره د خبرو او روغي جوړي خبري کوي. دا لمړي ښه او مناسب ګامونه دي. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de